# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د دریمې ربع راپور: د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې ۵۹۳۹ ملکي تلفات (۲۱۱۷ مړه او ۳۸۲۲ ټپيان) مستندکړي. په داسې حال کې چې دا په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله په ملکي تلفاتوکې ۳۰ سلنه کموالی او له ۲۰۱۲ کال راهیسې دکال په لومړيو نهو میاشتوکې د ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ شمیر وړاندې کوي، خو بیا هم په افغانستان کې جګړه د ولسي وګړو لپاره د نړۍ یوه تر ټولو خونړۍ هغه ګڼل کیږي. د ۲۰۱۹ کال د لومړيو نهو میاشتو په پرتله په ملکي تلفاتوکې کموالی د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو بریدونو او د ۲۰۲۰ کال له مارچ راهیسې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا په هوايي بریدونوکې د زیات کموالي له امله ملکي تلفاتوکې کمښت رامنځ ته شوی، چې په پایله کې یې په هغو ملکي تلفاتوکې د پام وړ کموالی رامنځ ته شوی کوم چې طالبانو، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او نړیوالو نظامي ځواکونو ته په ترتیب سره منسوب شوي. په داسې حال کې چې دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي وګړو د ژوبلې شمیر د پام وړ راپریوتی خو د وژل شویو شمیر بیا د تیرکال په څیر په ورته کچه پاتې دی، چې زیاتره یې طالبانو ته په منسوب شویو وژنوکې د لوړوالي له امله دي. افغان ملي امنیتي ځواکونه د ۲۰۱۹ کال د لومړيو نهو میاشتو په څیر د ملکي زیان د ورته کچې لامل شوي چې زیاتره یې د ځمکنیو نښتو پرمهال چیرې چې ملکي وګړي وژل شوي او ټپيان شوي او د زیان کچه لوړه پاتې شوې او د هوايي بریدونو په پایله کې د زیات شمیر ملکي تلفاتو له امله رامنځ ته شوي. په دغه موده کې افغان ملي اردو ته منسوب شوې زیاته ملکي مرګ ژوبله د اندېښنې وړ ده. نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات او د پېښو شمیر هم د پام وړ لوړ شوی، چې دا په ډاګه کوي چې زیاتې داسې نوري پېښې شته په تیره بیا د لاس جوړ شوي چاودیدونکو توکو د کارونې او هدفي وژنو په تړاو، په کوموکې چې یوناما د دولت ضد عناصرو د مسؤول لوري په معلومولو نه ده توانیدلې. دغه بهیر د هغو پېښو په شمیرکې له کموالی سره په مطابقت کې دی چې مسؤولیت یې د طالبانو یا د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا اخیستل شوی وي.






یوناما په ملکي تلفاتو کې دکمښت هرکلی کوي، خو پر دې ټینګار کوي چې ولسي وګړي باید په بشپړ ډول له زیان څخه وژغول شي او جګړه باید پای ته ورسول شي. د سپتمبر پر ۲۲ نېټه، د ملګرو ملتونو عمومي منشي د دغه کال تر پای پورې د نړیوال اوربند لپاره یو ځل بیا خپله غوښتنه نوې کړه څو د نړۍ لپاره له کوویډ–۱۹ سره پر مبارزې د تمرکز لپاره زمینه برابره شي.[1] تر دې دمه په افغانستان کې هیڅ ډول اړوند بشري اوربند نه دی رامنځ ته شوی. افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې درې ځل د جګړو د راکمولو لپاره درې ځلې خپلې اړوندې ورتیاوې په ډاګه کړې چې زیات شمېر ولسي وګړې له زیان څخه ژغورې، لومړی ځل د فبروري پر ۲۹ نېټه د متحده ایالاتو– طالبانو ترمنځ تر موافقې په مخکې اونۍ او د دواړه کوچني او لوی اخترونو د درې ورځنیو اوربندونو پرمهال ملاحظه شول.[2] یوناما همدارنګه د دې یادونه کوي چې د متحده ایالاتو – طالبانو ترمنځ تر هوکړې وروسته د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو او د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو او د خوست ژغورنې ځواک له خوا چاپېز عملیات درول شوي، په داسې حال کې چې د طالبانو او افغان ملي اردو له خوا، په تیره بیا د ځمکنیو نښتو پرمهال رامنځ ته شوي ملکي تلفات په لوړه کچه دوام درلود.

د ځانګړې اندیښنې وړ د غیر مستقیم فیر وسلو په شمول د هویټزر او هوانونو په ځانګړې ډول ملکي میشتو سیموکې د کارولو له امله زیات زیان او ښتل دي.

[1] دغه څرګندونې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له خوا د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۷۵ ناستې عمومي مباحثې د وینا پرمهال ترسره شوې، دغه راز وګورئ: https://news.un.org/en/story/۲۰۲۰/۰۹/۱۰۷۲۹۷۲.

[2] د ۲۰۲۰ کال د مۍ له ۲۴ تر ۲۶ پورې دکوچني اختر د اوربند پرمهال، یوناما ۴۹ ملکي تلفات (۲۷ مړه او ۲۲ ټپیان) مستندکړي. د ۲۰۲۰ کال د جولای له ۳۱ د اګست تر ۲ پورې د لوی اختر د اوربند پرمهال، یوناما ۹۷ ملکي تلفات (۳۹ مړه او ۵۸ ټپیان) مستندکړي، چې ۵۹ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۳۱ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د اګست پر ۲ نېټه د جلال اباد پر محبس د مسؤولیت منل شوي برید له امله رامنځ ته شوي.

## د وخت په اساس ملکي تلفات

ا جنوري - ۳۰ سپتمبر ۲۰۱۶ - ۲۰۲۰




د سپتمبر پر ۱۲ نېټه، د قطر په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت او طالبانو ترمنځ د افغانستان د سولې مذاکراتو د پیل مراسم پرانستل شول. د افغانستان اسلامي جمهوريت مذاکره کوونکي ټیم او افغان دولت زر تر زره د یوه هر اړخیز اوربند غوښتنه وکړه[3]؛

خو طالبانو خپل دا باور جاري وساته چې دغه ډول اوربند کیدای شي بیا وروسته د افغانستان د سولې په مذاکراتوکې په پام کې ونیول شي. څرنګه چې جګړه دوام لري، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبرکې د تیرې میاشتې په پرتله ملکي تلفات یو څه زيات شوي.[4] سربېره پر دې، یوناما په قطرکې د سپتمبر پر ۱۲ نېټه په رسمي ډول د مذاکراتو له پیل راهیسې په ملکي تلفاتوکې کوم کموالی نه دی مستندکړی. په معکوس ډول د سپتمبر د ۱۲ او ۳۰ ترمنځ، ملکي تلفاتو پر هماغه کچه ادامه درلوده پرکومه چې د خبر اترو تر پیل کیدو مخکې وو.[5] څرنګه چې تر اوسه د بشري مرستو د رسولو لپاره د جګړې د درلو یا پر اوربندکومه مباحثه او توافق نه دی ترسره شوی او ملکي تلفات په لوړه کچه دوام لري، یوناما پر ښکیلو خواوو د تاکید غږکوي چې پر هغو تدابیرو اوکړونو ته بیا کتنه وکړي او د خوندیتوب تدابیر دې لا غښتلې کړي ، په شمول د دې چې جګړه پایې ته ورسیږي او دا یې یواځینۍ لار ده چې د جګړې له امله ملکي تلفات ودرول شي.

په جګړه کې ټولې ښکیلې ډلې کولای شي او باید حتمي لا زیاتې هڅې وکړي چې ملکي وګړي د زیانمنیدو نه خوندي کړي او په سملاسي ډول خپلوکړونو ته بیا کتنه وکړي او د راکمیدو تدابیر لا زيات پیاوړي کړي، او همدا رنګه د جګړې پای ته رسیدو د پاره کار وکړي.

---

[3] د مثال په ډول د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د افغان دولت د مصالحې د عالي شورا د رئیس څرګندوني وګورئ، غیر رسمي ژباړه پر لاندې فیسبوک پاڼه وګورئ: https://www.facebook.com/DrMujibRahimi/posts/٥٠٩١٢٦٨٥٥٠٨٩٩٣٥٨.

[4] د ۲۰۲۰ کال په سپتمبرکې، یوناما د دغه کال د اګست میاشتې د ۷۳۸ ملکي تلفاتو (۳۰۷ مړه او ۴۳۱ ټپیان) په پرتله ۷۷۶ ملکي تلفات ۲۶۱ مړه او ۵۱۵ ټپیان) مستندکړي. سره له دې چې د سپتمبر له ۳۰ نېټې هغه خوا موده د دغه راپور له وسعت څخه بهر ده، یوناما په اکتوبر میاشت کې د هیواد په یو شمیر برخوکې د جګړې د شدت په اړه اندیښمنه ده. د مثال په ډول د دغه راپور د خپریدو پر مهال یوناما په هلمندکې د جګړې اغیز پر ملکي وګړو نظارت ، چیرې چې په زرګونو وګړي بېځایه شوي او زیات شمیر ملکي تلفات تایید شوي. یوناما دغه راز په ننګرهار، لغمان، او غور ولایتونوکې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د یو شمیر بې توپیره بریدونو او ورسره په تخارکې د هوایي برید اوکابل کې ځانمرګې برید چې ملکي وګړي په نښه کړي، چې په ټولیز ډول د ۴۰۰ څخه زیات ولسي مرګ ژوبله یې رامنځ ته کړې.

[5] یوناما د ۲۰۲۰ کال د اګست له ۱ څخه د سپتمبر تر ۱۱ نېټې پورې په اوسط ډول هره ورځ ۲۱ ملکي تلفات طالبانو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي ، په داسې حال کې چې د سپتمبر د ۱۲ او ۳۰ ترمنځ یې هره ورځ په اوسط ډول ۲۳ ملکي تلفات طالبانو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

## د ښکر د نوعیت په اساس ملکي تلفات
۱ جنوري – ۳۰ سپتمبر ۲۰۲۰




د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښې لامل ګڼل کیږي چې د ټولټال تلفاتو ۳۸ سلنه[6] وړاندې کوي. بل لور ته د تېرکال په پرتله دې ښکرونکې د وژل شویو ۴ سلنه زیات والی راغلی او ټپیانو شمېر ۱۳ سلنه راکم شوی.[7] د ځمکنۍ نښتو له امله ملکي تلفاتو زیاتره برخه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ته منسوب شوې چې زیاتره هغه یې په ګڼ میشته سیموکې د غیر مستقیمو وسلو (هاوانونو، راکیټونو او لاسي بمونو) دکارونې له امله رامنځ ته شوې. د مثال په ډول د اګست پر ۱۷ نېټه، د طالبانو او افغان ملي اردو ترمنځ د یوې ځمکنۍ نښتې پرمهال د هاوان یوه توغول شوې سرګلوله د غزني ولایت په اندړو ولسوالۍ کې پر یوه کور ولګیده، چې له امله یې درې ښځې او دوه هلکان ووژل شول او د دریو هلکانو، دوه نجونو، یوه سړي او یوې ښځې په ګډون، اوو نور ټپیان شول. یوناما د دغې پېښې مسؤوله خوا معلومه نه شوه کړای.

د جنوري له ۱ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، د دولت ضد عناصرو له خوا د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه د ملکي تلفاتو دویم مخکښې لامل ګڼل کیده چې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۹ سلنه په‌ګوته کوي.[8] سره له دې چې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو او دغه راز د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله عمومي ملکي تلفات د ۲۰۱۹ کال د

[6] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې ۲۲۷۵ ملکي تلفات (۶۰۶ مړه او ۱۶۶۹ ټپیان) مستندکړي. دولت پلوه ځواکونو د ۹۸۶ ملکي تلفاتو (۲۷۰ مړه او ۷۱۶ ټپیان) مسؤول وو. دولت ضد عناصر د ۷۰۴ ملکي تلفاتو (۱۷۷ مړه او ۵۲۷ ټپیان) مسؤول وو. یوناما دغه راز د ډزو د تبادلې او د ښکر د نورو ډولونو له امله ۵۸۵ ملکي تلفات (۱۵۹ مړه او ۴۲۶ ټپیان) مستندکړي.

[7] د ۱ جنوري – ۳۰ سپتمبر ۲۰۱۹ کال کې یوناما ۲۵۱۱ ملکي تلفات ( ۵۸۲ وژل شوي او ۱۹۲۸ ټپیان ) د ځمکنۍ نښتو له امله رامنځ ته شوي.

[8] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د دواړو انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله ۱۷۰۰ ملکي تلفات (۵۲۵ مړه او ۱۱۷۵ ټپیان) مستندکړي.

لومړیو نهو میاشتو په پرتله راکم شوي،[۹] یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله په ملکي تلفاتوکې ۴۳ سلنه زیاتوالی مستندکړی، چې نږدې ټول یې طالبانو ته منسوب شوي.

"ما د چاودنې یو لوړ غږ واوریده، د باندې مې رامنډه کړه و مې لید چې زوی مې زما کور ته څیرمه د اوبو پر چینې ټپي پروت دی. هغه ډیر سخت ټپي شوی و او خبرې یې نه شوې کولی. تر یو څو شیبو وروسته هغه زما په غیږکې ساه ورکړه. زه هغه دردوونکې شیبه نه شم تشریح کولی، دا چې ستا ځوان زوی دې ستا د سترګو په وړاندې ومري. زه نه پوهیږم چې طالبان ولې په عامه ځایونوکې د دغه ډول بمونو د ځای پر ځای کولو له لارې خلک ولې وژني... هغوي ولې هغه بې ګناه ملکي خلک وژني څوک چې له جګړې سره هیڅ کار نه لري؟"

- د افغانستان په مرکزي لوړه سیمه کې د فشاري چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله د یوه وژل شوي ماشوم پلار

د ملکي تلفاتو دریم مخکښ لامل هدفي وژنې دي چې د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې یې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۶ سلنه[۱۰] رامنځ ته کړې، چې د تیرکال د ورته مودې په پرتله په ملکي تلفاتوکې ۳۹ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۱۱] د مثال په ډول، د اګست پر ۱۹ نېټه د پوهنې وزارت یو لوړ پوړی

## په وسله واله جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا ملکي تلفات

۱ جنوري – ۳۰ سپتمبر ۲۰۲۰




---

[۹] د ۱ جنوري – ۳۰ سپتمبر ۲۰۱۹ کال، یوناما ۳۴۴۳ ملکي تلفات ( ۶۵۰ وژل شوي او ۱۹۲۸ ټپیان شوي) د ځانمرګي او غیر ځانمرګو چاودیدونکو توکو په پایله کې ثبت کړي.

[۱۰] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د هدفي وژنو له امله ۹۳۴ ملکي تلفات (۵۳۱ مړه او ۴۰۳ ټپیان) مستندکړي.

[۱۱] د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د هدفي وژنو له امله ۶۷۴ ملکي تلفات (۳۹۸ مړه او ۲۷۶ ټپیان) مستندکړي.

چاروا‌کي د هغه په موټر پورې د نښل شوي مقناطیسي بم د چاودنې له امله ووژل شو او موټر چلوونکی یې ټپي شو. د ۲۰۲۰ کال د سپتمبر پر ۱۱ نېټه په هرات ولایت کې د شیعه مذهبه مسلمانانو له خوا کاریدونکې یوه جومات ته څیرمه پر موټر سایکل دوه سپرو وسله والو پر هغو ملکي وګړو ډزې وکړې چې د ماښام د لمانځه تر اداکولو وروسته له جومات څخه د راوتلو په حال کې وو. د دغې پېښې په پایله کې د دوه سړیو او یو هلک په ګډون درې ملکي وګړي ووژل شول او د دریو سړیو، دوه ښځو او یوه هلک په ګډون شپږ نور ټپیان شول. هیڅ یوه لوري د دغه برید مسؤولیت پر غاړه نه دی اخیستی.

## د ۲۰۲۰ کال د لومړیو نهه میاشتو په مهال د ماشومانو تلفات ټولو ملکي تلفاتو کې ۳۱ سلنې ته او د ښځو تلفات ۱۳ سلنې ته لوړ شو.

په ملکي تلفاتو کې د عمومي کموالي د ملي بهیر په خلاف په نهو ولایتونو کې ملکي تلفات لوړ شوي. د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، د تیرکال د ورته مودې په پرتله په بلخ، سمنګانو، جوزجان، بدخشان، غور، کاپیسا، لوګر، خوست

او بامیانو ولایتونو کې زیات ملکي تلفات رامنځ ته شوي. یوناما له اندیښنې سره دا ملاحظه کړې چې د ۲۰۱۹ کال د لومړیو نهو میاشتو په پرتله په بلخ، سمنګانو او بدخشان کې ملکي تلفات تر دوه برابرو زیات شوي.[12]

یوناما دغه راز د زیان د هغو لوړوکچو په اړه اندیښنمنه ده چې ښځې او ماشومان ورسره په افغانستان کې مخ دي. د هرو ۱۰ ملکي تلفاتو له څلورو زیات یې ماشومان یا ښځې دي. د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې د ماشومانو تلفات د ټولو ملکي تلفاتو ۳۱ سلنه[13] او د ښځو تلفاتو د ټولو هغو ۱۳ سلنه[14] جوړوله. په ګڼ میشتو سیمو کې مکررې جګړې پر ښځو او ماشومانو ځانګړې اغیز لري ځوک چې د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو پرمهال د هاوانونو، راکیټونو او لاسي بمونو په ګډون د غیر مستقیمو وسلو له امله د ملکي تلفاتو دوه پر دریمه برخه جوړوي.

**"له دغه ځای څخه، افغان ملي پولیسو د طالبانو پر یوه چیک پواینټ باندې ډزې پیل کړې، چې د پولیسو یوه مرمۍ زما په ښي اړخ ولګیده او هغه زما په ستون فقرات کې پاتې شوه. زه سخت ټپي او بې هوښه شوم... ما د وجود کښتنۍ برخه نه شوه ښوروړلی... یقینا چې دغې پېښې پر ما په فیزیکي، رواني، مالي او ټولنیز ډول اغیز کړی. له هغه وخت راهیسې زه پرکټ پروت یم او په نورو خلکو متکي یم، زه خپلو ماشومانو ته د کوم شي د برابرولو وړتیا نه لرم او زه له ټولنیزو فعالیتونو ځان لرې ساتم. د دې پر ځای غوره ګڼم چې په دغې پېښه کې وژل شوی وای."**

- د افغانستان په شمالي سیمه کې ځمکنۍ نښتې پر مهال د غیر مستقیمو ډزو له امله یو فلج شوی قرباني

[12] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما په بلخ ولایت کې ۵۵۳ ملکي تلفات (۱۹۸ مړه او ۳۵۵ ټپیان)؛ په بدخشان ولایت کې ۱۳۵ ملکي تلفات (۴۳ مړه او ۹۲ ټپیان)؛ او په سمنګانو ولایت کې ۱۲۳ ملکي تلفات (۱۱ مړه او ۱۱۲ ټپیان) مستندکړي. د ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې، یوناما په بلخ ولایت کې ۱۹۹ ملکي تلفات (۸۸ مړه او ۱۱۱ ټپیان)؛ په بدخشان ولایت کې ۶۴ ملکي تلفات (۳۱ مړه او ۳۳ ټپیان)؛ او په سمنګانو ولایت کې ۴۵ ملکي تلفات (۱۱ مړه او ۳۴ ټپیان) مستندکړي وو.

[13] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ماشومانو ۱۸۴۸ تلفات (۵۵۳ مړه او ۱۲۹۵ ټپیان) مستندکړي.

[14] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ښځو ۷۴۶ تلفات (۲۵۱ مړې او ۴۹۵ ټپیانې) مستندکړي.

# ماشومان او وسله واله جګړه

د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ او د سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، یوناما د ماشومانو ۱۸۴۸ تلفات (۵۵۳ مړه او ۱۲۹۵ ټپیان) ثبت کړي. دغه شمیرې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د ۴۷ سلنې عمومي کموالی په ډاګه کوي او په پنځوکلونوکې دا لومړی ځل دی چې یوناما دکال په لومړیو نهو میاشتوکې د ماشومانو تر ۲۰۰۰ کم تلفات تاییدکړي. له دغه کموالي سره سره، افغانستان بیا هم په ۲۰۲۰ کال کې په نړۍ کې د ماشومانو لپاره یو تر ټولو خونړی هیوادګڼل کیږي.

د اندېښنې وړ ده چې د راپور ورکولو په موده کې دواړو دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو په ورته ډول په لوړ شمیر د ماشومانو تلفات اړولي. یوناما د شومانو ۷۲۲ تلفات (۲۴۶ مړه او ۴۷۶ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو[15] په عمده ډول افغان ملي اردو ته[16]، د ماشومانو ۷۱۱ تلفات (۱۹۲ مړه او ۵۱۹ ټپیان) د دولت ضد عناصرو[17] په اساسي ډول طالبانو ته منسوب کړي.[18]

ځمکنۍ نښتې[19] او په تعقیب یې غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي په تیره بیا فشاري ماینونه[20]، له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکې توکي[21] او هوایي بریدونه د ماشومانو تلفاتو مخکښې لاملونه ګڼل کیږي. د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې، له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي په غیر متناسب ډول د ماشومانو زیانمنول جاري ساتلي چې له دې ډول پېښو ۷۹ سلنه تلفات یې ماشومان جوړوي.

**"ما او زما د تره زوی په دښته کې څاروي پیوول چې یوه غټه وسپنیزه ټوټه مو وموندله. موږ فکر وکړ چې دا یوازې د وسپنې یوه ټوټه ده، هغه مو له ځان سره کلي ته راوړه او له هغې سره مو لوبې پیل کړي [دې بیا ] چاودنه وکړه زه او زما د تره زامن یې ټپیان کړل. شا و خوا شپږ وګړي ژوبل شول. زما ټپونه تر ټولو ناوړه وو. زما چپ لاس او ورنونه سخت ټپي شوي وو. زما له لاسونو او پښو وینه بهیده، زه بې هوښه شوم اوکله مې سترګې پرانیستې زه په روغتون کې وم. په دغې پېښه کې ما تر څنګل لاندې خپل لاس له لاسه ورکړ... اوس زه له ټولو نا اشنا شیانو څخه ډاریږم."**

- د افغانستان په شمالي سیمه کې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو یو ځوان قرباني

یوناما په افغانستان کې د وسله والو ځواکونو له خوا د ماشومانو دګمارنې اوکارونې د زیاتو شمیرو تاییدول جاري ساتلي، چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې د ۴۹ ماشومانو په پرتله د ۲۰۲۰

[15] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما ۶۲۱ د ماشومانو تلفات (۱۹۴ مړه او ۴۲۷ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو؛ ۴۴ ماشومانو تلفات (۳۵ مړه او نهه ټپیان) نړیوالو نظامي ځواکونو؛ ۱۶ ماشومانو تلفات (شپږ مړه او ۱۰ ټپیان) دولت پلوه وسله والو ډلو؛ او ۴۱ ماشومانو تلفات (۱۱ مړه او ۳۰ ټپیان) نا معلومو یا ګڼو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[16] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ماشومانو ۵۲۰ تلفات (۱۶۸ مړه او ۱۷۹ ټپیان) افغان ملي اردو ته منسوب کړي.

[17] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د ۶۲۷ ماشومانو تلفات (۱۷۹ مړه او ۴۴۸ ټپیان) طالبانو؛ ۳۳ ملکي تلفات (پنځه مړه او ۲۸ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت — خراسان ولایت ډلې؛ او ۵۱ ملکي تلفات (اته مړه او ۴۳ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[18] یوناما د ماشومانو ۴۱۵ تلفات (۱۱۵ مړه او ۳۰۰ ټپیان) د ښکېلو ډلو او نورو ترمنځ د ډزو تبادلې ته منسوب کړي.

[19] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو ۳۱۱ تلفات (۱۰۴ مړه او ۲۰۷ ټپیان) او تعبیه چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله د ماشومانو ۱۸۰ تلفات (۸۳ مړه او ۹۷ ټپیان) مستندکړي.

[20] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د غیر ځانمرګو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو ۳۱۱ تلفات (۱۰۴ مړه او ۲۰۷ ټپیان) مستندکړي او ۱۸۰ ماشومانو تلفات ( ۸۳ وژل شوي او ۹۷ ټپیان) د فشار سره چاودیدونکو توکو له امله مستندکړي.

[21] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د جګړې نه پاتې شوي ناچاوده توکو له امله د ماشونو ۲۳۵ تلفات (۶۹ مړه او ۱۶۶ ټپیان) مستندکړي.

کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې ۱۵۵ ماشومان چې ټول هلکان دي کارول اوګمارل شوي. زیاتره ماشومان،۱۴۴، د طالبانو له خوا د جګړه ییزو نقشونو لپاره کارول شوي چې زیاتره دغه قضیې د افغانستان په شمال ختیځو سیموکې مستند شوي. پاتې ۱۱ ماشومان د دولت پلوه وسله واله ډلو او افغان ملي اردو– سرحدي ځواک له خوا د جګړه ییزو موخو لپاره ګمارل شوي.

یوناما د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ او د سپتمبر د۳۰ نېټې ترمنځ د ښوونځیو او پوهنې اړوندکارمندانو په وړاندې ټولټال ۴۵ بریدونه مستندکړي، چې له نیمه یې زیاتې پېښې یې د ۲۰۲۰ کال په دریمه ربع کې راپور شوي.[22] یوناما د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتو کې پر روغتونونو او روغتیایي کارمندانو ټولټال ۵۲ بریدونه مستندکړي.

یوناما د جګړې ښکیلو خواوو ته د دې یادونه کوي چې پر ښوونځیو او روغتونونو بریدونه د ماشومانو پر ضد له شپږو جدي سرغړونو څخه یوه هغه تشکیلوي او په ځانګړې ډول د نړیوالې وبا په مهال چې ټول وګړي یې دګڼ بعدیز بحران سره مخ کړي لا ناوړه اغیز لري. دغه ډول کړنې ځایي وګړي په ځانګړې ډول ماشومان په داسې حال کې له پوهنې محروموي چې دکوویډ– ۱۹ له امله ښار بندیزونو لا وار د مخه دکال په اوږدو کې د زده کوونکو لپاره ښوونیز فرصتونه محدودکړي. دغه بریدونه داسې مهال د طبي خدمتونو وړاندې کول اغیزمن کوي چې وبا لا وار د مخه تر فشار لاندې روغتیایي سیستم له ستونزو سره مخ کوي. د هغو بریدونو پای ته رسولو سربیره چې ښوونځي او روغتونونه اغیزمن کوي او اړوندکارمندان او زده کوونکي زیانمن کوي، د جګړې ښکیلې خواوې باید همدارنګه داسې تدابیر ترسره کړي چې ښوونځیو او روغتونونو ته د اتفاقي زیان کچه راکمه کړي، ځرنګه چې دغه ډول زیان په ورته ډول په افغانستان کې ماشومانو ته د ښوونیزو او روغتیایي خدمتونو پر وړاندې کولو زیانمنوونکی اغیز لري.

د هر لسو ماشومانو نه د ۸ ماشومانو تلفات د جګړې نه پاتې شوي ناچاوده توکو له امله دي.

## دولت ضد عناصر

سره له دې چې د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ او سپتمبر د ۳۰ نېټې ترمنځ دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی ملکي تلفات ۳۴ سلنه[23] را ټیټ شوي، دغه ډلې د زیاتره ملکي تلفاتو، ۵۸ سلنه، مسؤولې وې چې ۳۴۵۰ ملکي تلفات (۱۲۷۸ مړه او ۲۱۷۲ ټپیان) تشکیلوي. د ملکي وګړو په ژوبله کې له کموالي سره سره، د دولت ضد عناصر د وژل شوي ملکي وګړو د ورته شمیر مسؤول ګڼل کیږي.

طالبانو د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۵ سلنه اړولي (۲۶۴۳ ملکي تلفات؛ ۱۰۲۱ مړه او ۱۶۲۲ ټپیان). دا د تیرکال[24] د ورته مودې په پرتله ۳۲ سلنه کموالي تشکیلوي، چې زیاتره د ځانمرګو بریدونو او ځمکنیو نښتو له امله دکم شمیر

[22] د جولای له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د هغو بریدونو اوګواښونو په ګډون چې ښوونځي او ښوونیزکارمندان په نښه کوي او نور هغه چې ښوونځیو، کارمندانو او زده کوونکو اتفاقي زیان اړوي، د ښوونځیو په ضد د بریدونو ۲۵ پېښې مستندکړي.

[23] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۵۱۹۰ ملکي تلفات (۱۲۴۶ مړه او ۳۹۴۴ ټپیان) منسوب کړي.

[24] یوناما طالبانو ۳۹۰۱ ملکي تلفات (۹۶۱ مړه او ۲۹۴۰ ټپیان) منسوب کړي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې،

ملکي ژوبله رامنځ ته شوي،[۲۵] سره له دې چې دا په جزئي ډول د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو او هدفي وژنو له امله د زیات شویو ملکي تلفاتو له امله بیرته معکوس شوې. یوناما له اندېښنې سره ملاحظه کړې چې په ملکي ژوبله کې د کموالي بر عکس، طالبانو ته منسوب شوې د و ژل شوي ملکي وګړو شمیر د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې شپږ سلنه لوړ شوې. د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ملکي تلفاتوکې دغه کموالی ته په کتو سره، د دې یادول مهم دي چې یوناما د ۲۰۱۹ په سپتمبرکې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي په پایله کې د ملکي تلفاتو د تر ټولو شمیر په ګډون، د ۲۰۱۹ کال د جولای او سپتمبر په درې میاشتنۍ موده کې د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر ثبت کړی.[۲۶]

## اګر چې طالبانو ته منسوب ملکي تلفات ۳۲ سلنه راکم شوي خو د وژل شویو شمیر کې شپږ سلنه زیات والی راغلی.

یوناما ۳۹۲ ملکي تلفات (۱۳۲ مړه او ۲۶۰ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي چې د ټولټال ملکي تلفاتو اوو سلنه جوړوي. دا د ۲۰۱۹ کال د لومړیو نهو میاشتو په پرتله نوموړې ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د ۶۱ سلنه کموالي ښکارندوی کوي، چې زیاتره د عراق او شام د اسلامي دولت ــ خراسان ولایت ډلې د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او ځمکنیو نښتو په پایله کې دکم شمیر ملکي تلفاتو له امله رامنځ ته شوي.[۲۷] د دې په خلاف، نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۵۱ سلنه لوړ شوي، چې د ثبت شویو ټولټال ملکي تلفاتو (۴۱۵ ملکي تلفات؛ ۱۲۵ مړه او ۲۹۰ ټپیان) اوو سلنه وړاندې کوي.[۲۸]

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په عمدي ډول د ملکي وګړو هدف ګرځولو په اړه اندېښمنه ده. د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، دولت ضد عناصرو په داسې بریدونوکې چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي لکه د پوهنې، روغتیا او بشري مرستوکارمندان، د عدلیه کارکونکي ، قومي او دیني مشران او د دولت ملکي کارکوونکي، ۱۱۴۸ ملکي تلفات (۵۲۷ مړه او ۶۲۱ ټپیان) اړولي. زیاتره دغه ډول ملکي تلفات طالبانو ته منسوب کړای شوي.[۲۹] د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۹ ماښام ، د لغمان ولایت، علیشنګ ولسوالۍ په شکرمن سیمه کې، طالبانو پر یوه امبولانس ډزې وکړې کوم چې له دولتشاه ولسوالۍ څخه د ولایت مرکز مهترلام ته یو ناروغ لیږدوه. د دغو ډزو په پایله کې په امبولانس کې یوه ۵ کلنه ناروغه ماشومه ووژل شوه او یوه ښځه ټپي شوه. د سپتمبر د ۵ نېټې پر سهار د خوست ولایت په تڼیو ولسوالۍ کې، د نوموړې ولسوالۍ قاضي او د هغه میرزا د طالبانو له خوا داسې مهال وتښتول شول کله چې هغوي د

[۲۵] د ۲۰۲۰ کال د ۱ جنورۍ – ۳۰ سپتمبر پورې، یوناما ۶۷۸ ملکي تلفات ( ۱۷۳ وژل شوي او ۵۰۵ ټپیان) په ځمکنۍ نښتوکې طالبانو ته منسوب کړي چې دا په ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهه میاشتوکې ۸۹۳ ملکي تلفات ( ۱۸۴ وژل شوي او ۷۰۹ ټپیان ) وو.

[۲۶] د ۲۰۱۹ کال په دریمه ربع کې د ۱ جولای څخه تر ۳۰ سپتمبر پورې ، یوناما ۴۴۹۷ ملکي تلفات ثبت کړي ( ۱۲۶۱ وژل شوي او ۳۲۳۶ ټپیان)

[۲۷] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته ۱۰۱۴ ملکي تلفات (۲۳۰ مړه او ۷۸۴ ټپیان) منسوب کړي.

[۲۸] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما نا معلومو دولت ضد عناصرو ته ۲۷۵ ملکي تلفات (۵۵ مړه او ۲۲۰ ټپیان) منسوب کړي.

[۲۹] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي په نښه کړي ۶۴۶ ملکي تلفات (۳۳۵ مړه او ۳۱۱ ټپیان) طالبانو؛ ۲۷۶ ملکي تلفات (۱۰۴ مړه او ۱۷۲ ټپي) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې؛ او ۲۲۶ ملکي تلفات (۸۸ مړه او ۱۳۸ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

ولسوالۍ اداري مرکز ته پر لار وو. دوی بیا وروسته خوشې کړای شول، خو د دغې پېښې له امله د قاضي پښه ټپي شوه. یوناما دغه راز د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا پر شیعه مسلمانانو چې زیاتره یې هزاره توکمه دي د بریدونو مستندکول جاري ساتلي.[30]

د دولت ضد عناصرو له خوا د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکوکاروني ملکي وګړو ته د زیان د پام وړ کچو اړول جاري ساتلي چې په پایله کې یې ۱۷۰۰ ملکي تلفات (۵۲۵ مړه او ۱۱۷۵ ټپیان) اوښتي، کوم چې د ۲۰۱۹ کال د لومړیو نهو میاشتو په پرتله د ۵۱ سلنه کموالي ښکارندوی ده.[31] د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ او د سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو ۴۲۶ ملکي تلفات (۶۹ مړه او ۳۵۷ ټپیان) اړولي، چې د تیرکال د ورته مودې په پرتله ۷۶ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[32] یوناما د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې د انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله په ترتیب سره طالبانو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته د ملکي تلفاتو ورته شمیر منسوب کړي، چې پاتې هغه یې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی.[33] د انتحاري تعبیه شویو چاویدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتوکې د پام وړکموالي په ملاحظه کولو سره، یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې دغه ډول یو شمیر بریدونو د لوړې کچې ملکي زیان اړول جاري ساتلي. د مثال په ډول د جولای پر ۱۳ نېټه، طالبانو د سمنګان ولایت په ایبک ښارکې د ملي امنیت پر ریاست ډله ییز برید ترسره کړ. د دغه برید له امله یو ملکي نارینه ووژل شو او د نهو ښځو او ۱۸ ماشومانو په ګډون ۹۰ ولسي وګړي ټپیان شول. د جولای پر ۳۰ نېټه، د لوګر ولایت په پل علم ښارکې د ملي امنیت ریاست او ملي پولیسو چیک پواینټونو ته څیرمه یوه موټر بم چاودنه وکړه چې په پایله کې یې اته ملکي وګړي ووژل شول او ۷۳ نور ټپیان شول. هیڅ لوري د دغه برید مسؤولیت پر غاړه وانخیست.

**یوناما په قصـــدي ډول د ملکي وګړو په شـمول د معارف ، روغتیا ، بشـري مرسـتو کـارکونکو ، د عـدلیـه قوې غړي، قومي مشـــران، مذهبي مشـــران او ملکي دولتي مامورینو هدف ګرځولو په اړه اندیښمنه ده.**

د اګست پر ۲ نېټه، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د جلال اباد پر محبس ډله ییز برید وکړ، چې له

[30] د مثال په ډول د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۲۹ نېټه په هرات ولایت کې د عامه ترانسپورت په یوه موټر پورې د نښتل شوي مقناطیسي بم چاودنې درې سړي ووژل او د دوه ښځو، دوه سړیو او یوه هلک په ګډون پنځه نور یې ژوبل کړل. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسؤولیت پر غاړه واخیست او په ډاګه یې کړه چې هغوی شیعه مذهبه مسلمانان په نښه کړي.

[31] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله ۳۴۴۳ ملکي تلفات (۶۵۰ مړه او ۲۷۹۳ ټپیان) مستندکړي.

[32] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارونې له امله ۱۷۷۹ ملکي تلفات (۳۰۰ مړه او ۱۴۷۹ ټپیان) مستندکړي.

[33] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله ۱۷۹ ملکي تلفات (نهه مړه او ۱۷۰ ټپیان) طالبانو؛ ۱۶۵ ملکي تلفات (۵۲ مړه او ۱۱۳ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او ۹۲ ملکي تلفات (اته مړه او ۷۴ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

## په لاس جوړ د فشار سره چاودېدونکو توکو له امله ملکي تلفات

۱جنوري - ۳۰ سپتمبر ۲۰۱۶ - ۲۰۲۰




امله يې ۲۸ ملکي وګړي ووژل شول او د بنديانو او د محبس د ساتونکو په ګډون ۳۱ نور ټپيان شول.

په ۲۰۲۰ کال کې د انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو له امله په ملکي زيان کې د پام وړ کموالی دا په ډاګه کوي چې دولت ضد عناصر د دې وړتيا لري چې د پېښو د هغو ډولونو څخه ملکي وګړو ته زيان کچه راکمه کړي کومو چې دکلونو لپاره وګړو ته زيات زيان اړوه. آن په ۲۰۲۰ کال کې د دغه ډول بريدونو په شميرکې له کموالي سره سره، اغيز يې پر ملکي وګړو ويجاړوونکی دی. يوناما دولت ضد عناصر په ټېره بيا طالبان دې ته هڅوي چې په نهايي ډول د انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکوکارونه ودروي.

غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو ۱۲۷۴ ملکي تلفات (۴۵۶ مړه او ۸۱۸ ټپيان) اړولي چې د ۲۰۱۹ کال د لومړيو نهو مياشتو په پرتله ۲۳ سلنه کموالی په ډاګه کوي[۳۴]. د طالبانو له خوا د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو دکاريدلو فشاري ماينونو له امله د ملکي تلفاتو زياتيدونکی شمير د ځانګړې اندېښنې وړ دي، کوم چې په افغانستان کې د پرسونل ضد ځمکنيو ماينونو په څير کارکوي؛ دغه ماينونونو جوړښت بې توپيره اغيز لري او له همدې امله تل ناقانونه ګڼل کيږي. د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، يوناما د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د فشاري ماينونو له امله ۵۸۴ ملکي تلفات (۳۲۳ مړه او ۲۶۱ ټپيان) مستندکړي، چې ۱۲ سلنه يې ښځې او ۳۱ سلنه يې ماشومان دي. دا د ۲۰۱۹ کال د لومړيو نهو مياشتو په پرتله د دغو وسيلو له امله په ملکي تلفاتوکې ۴۴ سلنه زياتوالی او د وژل شويو ملکي وګړو تر دوه برابرو زيات شمير دي. د دغو وسيلو له امله د ملکي تلفاتو ۹۹ سلنه يې طالبانو ته منسوب شوي.[۳۵] د جولای پر ۱۱ نېټه، د غزني ولايت، جغتو ولسوالی د قياغ درې په سيمه کې د يوه بس پر سپرليو د طالبانو له خوا د په لاس جوړ شوی فشاري ماين چاودنې شپږ ملکيان ووژل او اته نور يې ټپي کړل. د ۷ او ۹ اګست ترمينځ يوناما دکندهار په ارغستان ولسوالۍ کې د طالبانو په لاس جوړ د فشار سره چاودېدونکو

---

[۳۴] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، يوناما د غير انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو دکاروني له امله ۱۶۶۴ ملکي تلفات (۳۵۰ مړه او ۱۳۱۴ټپيان) مستندکړي.

[۳۵] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، يوناما د انتحاري تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د فشاري ماينونو له امله ۵۸۰ ملکي تلفات (۳۲۱ مړه او ۲۵۹ ټپيان) طالبانو ته منسوب کړي.

توکو پېښې مستندکړي چې له امله یې ۲۶ ملکیان وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي. د سپتمبر پر ۲۹ نېټه د دایکندي ولایت، د کجران ولسوالۍ په سرکاریز سیمه کې د طالبانو له خوا د ایښودل شوي فشاري ماین چاودنې د یوه موټر ۱۵ ملکي سپرلۍ ووژله او څلور نور یې ټپیان کړل.

**"موږ زما او زما د ورور د کورنیو په ګډون، زموږ په کرولا ډوله موټرکې تقریبا اوه نفر سپاره وو. موږ ټولو خوشحال وو، خبرې او خنداګانې موکولې چې ناڅاپه موټر پر چاودیدونکې وسیلې وختوت... دغې چاودنې زموږ کورنۍ ویجاړه کړه. په دغې پېښه کې ما خپل زوی، خپله وریره او خپل ورور له لاسه ورکړ. زما میرمن، زما لور او زه په خپله سخت ټپي شولو. موږ ټول په وینوکې لت پت وو. زموږ د خپلوانو د بدن غړي په سیمه کې په هر لوري تیت شوي وو. زه خدای ته دعاکوم چې دغه ډول صحنه زموږ دوښمنانو ته هم و نه ښیي..."**

- د افغان په شمالي سیمه کې د په لاس جوړ شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماین قرباني

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د ملکي وګړو یا ملکي شیانو عمدي په نښه کول منع دي؛ د جګړې د هر لوري له خوا د هغوکسانو وژل چې په دوښمنیو/جګړوکې فعاله ونډه نه اخلي د جنیوا کنوانسیونونو د دریمې مشترکې مادې له مخې په صریح ډول هر وخت او هر ځای منع دي او ښایي جنګي جرمونه تشکیل کړي. یوناما یو ځل بیا پر دولت ضد عناصرو غږکوي چې زر تر زره په ټولو ملکي میشتو سیمو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او غیر مستقیمو وسلو (هاوانونو، راکیټونو، او لاسي بمونو) کارونه ودروي. یوناما سربیره پر دې یو ځل بیا پر طالبانو غږکوي چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د نا قانونه فشاري ماینونوکارونه زر تر زره بنده کړي او له هغوی غوښتنه کوي چې د هغوی د کارونې د منع لپاره پخواني ترسره شوې ژمنې عملي کړي.

## دولت پلوه ځواکونه

د ۲۰۲۰ کال د جنوري د ۱ او د سپتمبر د ۳۰ نېټې ترمنځ، دولت پلوه ځواکونه له یوې ربعې د زیاتو ملکي تلفاتو – ۲۸ سلنه – مسؤول وو چې ۱۶۴۰ ملکي تلفات (۶۰۲ مړه او ۱۰۳۸ ټپیان) کیږي.[۳۶] په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۳۴ سلنه راکم شوي.[۳۷] افغان ملي امنیتي ځواکونه د ۱۳۷۶ ملکي تلفاتو (۴۶۶ مړه او ۹۱۰ ټپیان) مسؤول وو چې د ټولټال ملکي تلفاتو ۲۳ سلنه جوړوي، کوم چې هغو شمیرو ته ورته دي چې د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتوکې ثبت شوي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو انفرادي څانګو ته په کتو سره، یوناما له اندېښنې سره ملاحظه کړې چې د هوایي بریدونو او ځمکنیو نښتو له امله د ولسي مرګ ژوبلې د لوړ شمیر له امله افغان ملي اردو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۲۵ سلنه لوړ شوي.[۳۸] یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۱۱۳ ملکي تلفات (۸۳ مړه او ۳۰ ټپیان) منسوب کړي چې د ټولو ملکي تلفاتو دوه سلنه وړاندې کوي.[۳۹] د ۲۹ فبروري د متحده ایالاتو – او طالبانو له تړون راهیسې، د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا نړیوال را منځ ته شوي ملکي تلفات تر

[۳۶] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما دولت پلوه ځواکونو ته ۲۴۸۶ ملکي تلفات (۱۲۲۵ مړه او ۱۲۶۱ ټپیان) منسوب کړي.

[۳۷] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۳۷۴ ملکي تلفات (۵۴۳ مړه او ۸۳۱ ټپیان) منسوب کړي.

[۳۸] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما افغان ملي اردو ته د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې د ۸۹۲ ملکي تلفاتو (۳۱۷ مړه او ۵۷۵ ټپیانو) په پرتله ۱۱۱۹ ملکي تلفات (۳۷۹ مړه او ۷۴۰ ټپیان) منسوب کړي.

[۳۹] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۶۹۵ ملکي تلفات (۴۷۸ مړه او ۲۱۷ ټپیان) منسوب کړي.

### په جګړه کې د ښکېلو ډلو د هوایي عملیاتو له امله ملکي تلفات
۱جنوري - ۳۰ سپتمبر ۲۰۱۶ - ۲۰۲۰




ډېره حده پای ته رسيدلې.[٤٠] دولت پلوه وسله والې ډلې یا ګڼ دولت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د یوې سلنې مسؤول وو.[٤١]

## افغان امنيتي ځواکونوته منسوب ملکي تلفات چې ډېرى يې د هوايي بريدونو او ځمکنۍ نښتو له امله دي، ۲۵ سلنه ډېر شوي.

د دولت پلوه ځواکونو لپاره ځمکنۍ نښتې د پېښې د نوعيت له پلوه د زیاترو ملکي تلفاتو لامل شوې چې د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نهه میاشتوکې ۹۸۶ ملکي تلفات ( ۲۷۰ وژل شوي او ۷۱۶ ټپيان شوي) يې اړولي چې دا د تېرکال د ورته مودې ته ورته تلفات دي. هغه ويجاړوونکى زیان د مشخصې انديښنې وړ دى کوم چې د هويتزر توپونو[٤٢] او هاوانونو په ګډون د غير مستقيمو وسلو دکاروني له امله رامنځ ته شوي په ځانګړې ډول په ملکي میشتو سیموکې. د جنوري له ۱ نېټې څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، دولت پلوه ځواکونو ۸۰۶ ملکي تلفات (۲۰۵ مړه او ۶۰۱ ټپیان) اړولي، چې افغان ملي اردو د دغو تلفاتو له درېو ربعو د زیاتې برخې مسؤوله ګڼل کيږي.[٤٣] د دولت پلوه ځواکونو له خوا د همدې وسلې دکارولو له امله د هر څلورو تلفاتو درې تنه يې ښځې يا ماشومان جوړوي ، او اکثره هغه وخت د ملکي تلفاتو لامل کيږي چې کله دا مرمۍ کورونوکې ولږيږي. د ۲۰۲۰ کال د اګست پر ۱۰ نېټه د غور ولايت په دولتيار ولسوالۍ کې، افغان ملي امنيتي ځواکونو د طالبانو په لور هاوانونه ګذارکړل چې پر ملکي کورونو ولګيدل چې له امله يې شپږ ولسي وګړي ووژل شول او ۱۱ نور ټپيان شول چې زياتره يې ښځې او سړي وو.

---

[٤٠] يوناما نړيوالو نظامي ځواکونو ته د متحده ایالاتو – طالبانو ترمنځ د تړون تر لاسليک مخکې د ۲۰۲۰ کال د فبروري له ۱ تر ۲۹ نېټې پورې موده کې ۱۰۷ ملکي تلفات (۸۱ مړه او ۲۶ ټپيان) منسوب کړي. د ۲۰۲۰ کال د مارچ له ۱ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما نړیوالو نظامی ځواکونو ته شپږ ملکی تلفات (دوه مړه او څلور ټپيان) منسوب کړي.

[٤١] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما دولت پلوه وسله والو ډلو ته ۶۶ ملکي تلفات (۲۷ مړه او ۳۹ ټپيان) منسوب کړي. په ورته موده کې، یوناما ۸۵ ملکي تلفات (۲۶ مړه او ۵۹ ټپيان) نا معلومو یا ګڼو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[٤٢] هوتيزر د مرمۍ ګذارولو د لوی واټن یو سیستم چې د غير مستقيمو وسلو د ګذارولو لپاره کارول کيږي.

[٤٣] . د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما افغان ملي اردو ته د ځمکنیو نښتو پر مهال د غير مستقيمو وسلو د کاروني له امله ۶۳۰ ملکي تلفات (۱۶۷ مړه او ۴۶۳ ټپيان) منسوب کړي.

## د ځانګړې اندېښنې وړ د غیر مستقیم فیر وسلو په شمول د هویټزر او هوانونو په ځانګړې ډول ملکي میشتو سیموکې د کارولو له امله زیات زیان او ښتل دي

د سپتمبر پر ۶ نېټه د ننګرهار ولایت په شیرزادو ولسوالۍ کې، افغان ملي اردو د طالبانو پر لور د هاوان یو سرګلوله ګذارکړه چې پر یوه هستوګنیز ځای ولګیده. د دغې پېښې په پایله کې شپږ ملکي وګړي ووژل شول او څلور نور ټپیان شول، چې ټول قربانیان ښځې او ماشومان وو. د سپتمبر پر ۱۹ نېټه د بلخ ولایت په زارع ولسوالۍ کې، افغان ملي اردو د طالبانو پر مورچلو هاوانونه ګذارکړل. هاوانونه یوې هتۍ ته څېرمه ولګیدل چې له امله یې درې ملکیان ووژل شول او اته نور ټپیان شول. یوې ښځې چې میره یې په شمال ختیځ سیمه کې د یوې ځمکنۍ نښتې پر مهال د ډزو په تبادله کې وژل شوی په ډاګه کړه، چې:

د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو له امله پر ملکي تلفاتو سربیره، د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما دغه راز د پولې په اوږدو د پېښو مستندول جاري ساتلي چې پاکستاني نظامي ځواکونه په کې ښکیل وو. د جولای پر ۳۰ نېټه، کله چې د چمن – سپین بولدک پر پوله یو لاریون تاوتریخجن شو، د پاکستاني نظامي ځواکونو د ډزو په پایله کې ۱۵ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۰۴ نور ټپیان شول. پاکستان یوناما ته د دې پخلی کړی چې پاکستاني نظامي ځواکونو د دغې پېښې پرمهال سپکې وسلې کارولې، خو په ډاګه کړې یې ده چې د هغه شمیر ملکي تلفاتو نه دي لامل شوي چې د یوناما له خوا مستند شوي.

یوناما دغه راز د ملکي تلفاتو د هغه زیاتیدونکي شمیر په اړه اندېښمنه ده چې د افغان هوایي ځواک د بریدونو له امله رامنځ ته شوي. سره له دې چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړیو نهو میاشتوکې د ټولو هوایي بریدونو له امله په ملکي تلفاتوکې ۴۶ سلنه کموالی رامنځ ته شوي، دغه کموالي په عمده ډول په هغو ملکي تلفاتوکې دکمښت له امله دی چې نړیوالو نظامي ځواکونو د ترسره شوي بریدونو په پایله کې اړول شوي.[44]

د جنوري له ۱ د سپتمبر تر ۳۰ پورې، یوناما د افغان هوایي ځواک د هوایي بریدونو ۶۳ پېښې مستندکړې چې ۳۴۹ ملکي تلفات (۱۵۶ مړه او ۱۹۳ ټپیان) یې اړولي. دا د ۲۰۱۹ کال کې د لومړیو نهو میاشتو په پرتله په ملکي تلفاتوکې د ۷۰ سلنه زیاتوالي او د هوایي بریدونو له امله په ملکي مړینه کې د ۵۰ سلنه زیاتوالي سره تطابق کوي.[45] د افغان هوایي ځواک هوایي بریدونوکې هغه مهال ملکي تلفات رامنځ ته کیږي چې کله بریدکې ملکي کورونه په ولږیرې چې په اوسط ډول د ملکي تلفاتو هره پېښه له پنځو څخه د زیات ملکي تلفاتو لامل کیږي په هرو ۱۰ ملکي تلفاتوپه دغه ډول هوایي بریدونو کې د شپږو زیات یې ښځې او ماشومان وي.[46] د جولای پر ۲۲ نېټه د هرات ولایت په ګذره ولسوالۍ کې، د افغان هوایي ځواک چورلکو پر هغې غونډې

[44] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د ۲۰۱۹ کال ورته مودې کې ۱۲۲ پېښوکې د ۶۶۸ ملکي تلفاتو (۴۶۸ وژل شوي او ۲۰۰ ټپیان) په پرتله د نړیوالو نظامي ځواکونو هوایي بریدونو ۲۴ پېښو کې ۱۱۰ ملکي تلفات (۸۳ مړه او ۲۷ ټپیان) اوښتي.

[45] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د افغان هوایي ځواک هوایي بریدونو په ۴۴ پېښوکې ۲۰۵ ملکي تلفات (۱۰۴ ، وژل شوي او ۱۰۱ ټپیان) منسوب کړي.

[46] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما د افغان هوایي ځواک هوایي بریدونو ته د ماشومانو ۱۵۱ تلفات (۶۴ مړه او ۸۷ ټپیان) او د ښځو ۶۵ تلفات (۲۶ مړې او ۳۹ ټپیانې) منسوب کړي.

هوايي بريدونه ترسره کړل چې د يوه پخواني طالب قوماندان ځوک چې په دې وروستيوکې د بګرام له زندان څخه ازاد شوی و، له خوا تنظيم شوې وه يوه بريد پخپله دغه غونډه په نښه کړه چې له امله يې نهه ملکيان ووژل شول او نهه نور هغه ټپيان شول، دويم بريد يوه نقليه وسيله په نښه کړه چې له غونډې څخه د تګ په حال کې وه، چې له امله يې څلور ولسي وګړي ووژل شول او پنځه نور ټپيان شول. د سپتمبر پر ۱۹ نېټه، دکندز ولايت په خان اباد ولسوالۍ کې افغان هوايي ځواک د طالبانو پر ضد هوايي بريد ترسره کړ. هغه ځايي ميشتي ځوک چې د هوايي بريدو له امله د يوه کور مخ ته د ډزو له امله ګير راغلي وو د دويم بريد له امله چې عين موقعيت په نښه کړ اغيزمن شول، چې له امله يې ۱۵ کسان ووژل شول او پنځه ولسي وګړي ټپيان شول.

**"... زما زوی په خېټه کې د ټپونو له امله ډېره وينه ضايع کړه او اوس ډېر کمزوری شوی او د ډېر درد احساس کوي... زما زوی دوه ځلې عمليات شوی. کوم څه چې په دغې قضيې کې زموږ له ماشومانو سره څه وشول، پر موږ په رواني ډول ډېر ناوړه اغيز کړی. کله چې موږ زموږ دکلي په شاو خوا کې د الوتکو د پرواز غږ وارو، موږ ټول له الوتکو بيرېږو، زما ټول زامن ډارېږي او هغوی دکور په يوه کونج کې پټيږي."**

- په شمال ختيځه سيمه کې د افغان هوايي ځواک د بريد يو تن قرباني او د هغه پلار

يوناما يو ځل بيا افغان حکومت ته د دې يادونه کوي چې په ګڼ ميشتو سيموکې د غير مستقيمو وسلو ( هويټزر، هاوانونو، او لاسي بمونو) او نورو چاوديدونکو توکو کارونه ودروي کوم چې پر پراخې سيمې اغيزکوي، او تاکتيکي لارښودونو او همدا رنګه د وسلواله نښتو د جنګي الوتکو د کارونې اړوند اصول او پروسيجرونه کې بهتره پرمختګ ته ادامه ورکړي. يوناما سربيره پر دې افغان حکومت ته د ولسي وګړو د ساتنې لپاره د ټولو احتياطي تدابيرو د ترسره کولو د مکلفيت يادونه کوي کوم چې په هغو حالاتوکې هم نه کمېږي چيرې چې دولت ضد عناصرو په عمدي ډول له ولسي وګړو سره ځانونه يو ځای کړي وي ترڅو ځانونه له هدف ګرځيدو څخه وژغوري. يوناما دولت ضد عناصرو ته د دې يادونه کوي چې له ملکي وګړو سره دغه ډول ځانونه ګډ واقع کول يا ګډول د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې منع دي.

## په ملکيانو د وسله والې شخړې اغيزې

يوناما د پيښې وروسته مرکو له لارې په قربانيانو او د هغوي د کورنۍ پر غړو د وسله والې نښتې د بشري حقونو اغيز[47] څارنې ته دوام ورکوي. د څارنې او راپور ورکولو دغه کرښه په دې هڅه کې ده چې د قربانيانو د قضيو د را غونډولو او معلومولو له لارې د وسله والو شخړو له امله د زيانمنو خلکو غږونه تقويه کړي او د دې ارزونه وکړي چې څنګه د دوي اقتصادي، ټولنيز اوکلتوري حقونه اغيزمن شوي . او دا هم معلوموي چې تر کومې کچې وسله واله جګړه کې ښکېلې ډلې د پېښې او اوښتې زيان مسؤليت په غاړه او څه ډول قرباني ته حقيقت، عدالت او د خسارې ورکړې ته د قربانيانو حقونو ته رسيدګي کيږي. په دې لړکې يوناما د ښه نيت خپلې هڅې هم په لار اچولې ترڅو يو شمير مرکه شوي قربانيان د خدمتونو د چمتوکونکو سره وصل کړي، په يو شمير مواردوکې يې د اړوندو دفترونو سره د خسارې

[47] د دې راپور د موخو لپاره، د قرباني په اصطلاح کې د د قرباني نږدې کورنۍ يا د قرباني دکورنۍ متعليقين هم شامل دي. يوناما هغه ملکي قربانيان څاري چې د جګړې له امله ټپي شوي دي او يا د يوه ملکي شخص ځوک چې د وسله والې جګړې په جريان کې وژل شوې، او د کورنۍ د نږدې غړو څخه دي. د ملکی وګړو مړينه يا ټپي کيدنه کيدی شی د نړيوال بشردوستانه قانون څخه سرغړونه وی يا نه وی.

د ورکړې چارې هم تعقیب کړي، او همدارنګه په پام کې لري چې په راتلونکې میاشتوکې پدې برخه کې نورګامونه هم پورته کړي. یوناما د قربانیانو د حقونو موضوع ته په جګړه کې د ښکیلو ډلو پاملرنه غواړي او د هغه میکانیزمونو وړاندیز سره چې دې ته حل ومومي.

یوناما په خپل شپږ میاشتني راپورکې[48] د هغو جریاناتو د دوام یادونه کړې چې په یاد راپورکې توضیح شوي چې د هیواد په کچه د قربانیانو او د هغوی له کورنیو سره مرکې ترسره کوي. د ۲۰۲۰ کال د جون او سپتمبر تر منځ، یوناما په ټولیزه توګه ۸۳ داسې مرکې ترسره کړې، دکوم پر بنسټ چې د دې راپور معلومات ولاړ دي. د مرکه شویو ټپي شویو قربانیانو او د هغوی د خپلوانو له جملې څخه ۸۵ سلنې ویلي چې دا ډول پیښې د اوږدې مودې فزیکي معلولیت یا بد شکلۍ لامل شوې. ټولو مرکه شویو ژغورل شویو قربانیانو یا خپلوانو تصدیق کړې چې دا ډول پیښې د احساساتي او رواني اضطراب لامل شوې، د بیلګې په توګه د شپې له خوا د خوبونو لیدل یا یې په خوب کې د ستونزو په اړه راپور ورکړی. د قربانیانو ۹۰ سلنې، معمولا د کورنۍ د ډوډۍ او نفقې د راوړونکي د مړینې او لوړو طبي لګښتونو له امله مالي زیان لیدلی. د مرکه شویوکسانو په سلوکې ۶۸ سلنې ویلي چې د پیښې په پایله کې د دوی ټولنیز اوکلتوري ژوند اغیزمن شوی. د مثال په توګه، ډیری قربانیانو یا خپلوانو دا احساس کاوه چې دوی نور نه شي کولای د ذهني ټکان د احساسولو له امله په ودونوکې برخه واخلي، دکورنۍ یا ملګرو څخه لیدنه وکړي، په جومات کې لمونځ وکړي او یا ښوونځي ته ولاړ شي. سربیره پردې، په سلوکې ۲۲ قربانیانو ویلي چې دوی د پیښې له امله بې ځایه شوي دي.[49] دا مرکې د دوامداره زیان یوه کوچنۍ نمونه ده چې ملکي وګړو د جګړې په پایله کې زیان لیدلې.

**"کله چې هغه د ډزو کوم غږ وا نه ورید فکر یې وکړ چې حالت نورمال شوی او له کوره ووت، خو له بده مرغه کله چې هغه له کوره د باندې پښه کېښوده هغه د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا په ډزو وویشتل او و وژل شو. زما مېړه په کوڅه کې راپریوت خو څوک نه و چې له هغه سره یې مرسته کړې وای او هغه تر هغې هلته پروت و ترڅو چې د سختې وینې بهیدنې له امله ومړ. زما مېړه یو شتمن سړی نه و خو هغه زما او زما د ماشومانو لپاره هر څه و... له کوم وخت راهیسې چې هغه له موږ سره نشته، زه د یوازیتوب احساس کوم او د خپلو ماشومانو زړګونه مسؤولیتونه را تر غاړې شوي... زه زموږ د درملنې لپاره آن یوه افغانۍ هم نه لرم. کاش زه نه وای ژوندۍ ترڅو مې دغه حالت نه وای لیدلای."**

- هغه میرمن چې خاوند یې د ځمکنۍ نښته کې د متقابل ډزو په مهال په شمال ختیځه سیمه کې وژل شوی

## د افغانستان د سولې مذاکرات ښکیلو خواو ته فرصت براروي چې د نه جبرانیدونکو تلفاتو او په افغانو د ویجاړۍ د اغیز په اړه یې فکر وکړي او د قربانیانو حقونه خوندي شي.

---

[48] د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۲۰ کال شپږ میاشتنی راپور (د ۲۰۲۰ جولای) وګورۍ چې به لاندې بریښنایي پته د لاسرسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[49] ځینو مرکه شویوکسانو غوښتل چې د خپل ځایه بل ځای ته وکوچیږي ، خو وویلي یې چې دوی د دې کار د ترسره کولو لپاره مالي توان نه لري.

د قرباني اشخاصو مرکو د شخړو د ښکیلو خواوو په اړه د پام وړ پاتي راتلل او ناکامي څرګنده کړې چې د زیان تصدیق وکړي، د ترسره شوي زیان کچه معلومه کړي، یا حتی د قربانیانو او د هغوي دکورنیو سره اړیکې ونیسي. لکه څنګه چې یوه سړي ویلي د چا میرمن او زوی چې د اګست په میاشت کې د طالبانو د سړک د غاړې د د تعبیه شویو چاودیدونکو تو فشاري ماین د چوولو له امله وژل شوي:

" ژوند اوس زما پر اوږو یو ډول بار دی او زه هیڅکله هم د ژوندي پاتې کیدو څخه خوند نه اخلم. هر وخت زه فکر کوم چې "زه ولې ژوندی یم؟"، زما دکورنۍ دواړه مشران او زما میرمن ووژل شول او له دې سره د راتلونکې لپاره زما هیله هم له منځه ولاړه. د شخړې هیڅ اړخ نه دي منلي چې دوي پیښه ترسره کړې او دا چې دوي باید پدې پښیماني وکړي ... د شخړې هیڅ اړخ د دې پروا نه کوي که زما ژوند ویجاړ شوی او زما کور چې د تیرو او خټو څخه جوړ و ویجاړ شي."




مرکه شویو ۸۳ سلنه قربانیانو ویلي چې دوي د پیښې وروسته د شخړې د ښکیلو خواوو څخه هیڅ ډول معلومات نه دي تر لاسه کړي او له نیمایي څخه ډیرو مرکه شویوکسانو ویلي چې د وژل کیدو او ټپي کیدو څخه وروسته د شخړې د ښکیلو خواوو له خوا له دوي سره هیڅ ډول اړیکه نه ده نیول شوي. یوازې ۱۵ سلنه قربانیانو ویلي چې د شخړې د ښکیلو یوې ډلې لخوا یې د هر ډول زیان رسیدو په اړه تصدیق ترلاسه کړی او یوازې شاوخوا ۱۲سلنه قربانیان د پیښې په اړه د تحقیق څخه خبر وو. د افغانستان په ختیځ کې د یوې ځمکنۍ نښتې پرمهال د هغې پرکور د هاوان تر لګیدو وروسته هغه څو ځایه د هاوان پر پارچو ټپي شوې. دکورنۍ د څو غړو له جملې څخه یې یو تن ټپي شوی، هغې همداراز وویل چې:

"هیڅ چا هڅه ونه کړه چې زموږ سره په دې ناوړه حالت کې مرسته وکړي، نه طالبانو، نه حکومت او نه افغان ملي اردوکوم اقدام ترسره کړ ترڅو موږ ته رسیدګي وکړي ترڅو د اوښتي زیان تصدیق وکړي یا د اوښتي زیان په اړه خساره ورکړي. تر دې دمه هیڅ چا د پیښې په اړه له موږ سره د خبرو هڅه نه ده کړې."

یو ماشوم چې د افغانستان په ختیځه سیمه کې د افغان امنیتي ځواکونو د هاوان په واسطه ټپي شوی، ویلي چې،

"هیڅ څوک د خپلو ناسموکړنو مسؤولیت نه اخلي. د دوي لپاره، ملکي وګړي د څارویو حیثیت لري. د شخړې ښکیلې خواووې چې له یو بل سره جګړه کوي زموږ پروا نه کوي. "

پداسې حال کې چې د شخړو د قربانیانو لپاره د خسارې د ورکړې یا د مرستې د چمتوکولو لپاره د حکومتي او غیر حکومتي سازمانونو میکانیزمونه شتون لري، د ۷۵ سلنې څخه زیاتو قربانیانو ویلي چې دوي د مرستې لپاره غوښتنه کړې، راپور یې ورکړی چې دوي لاهم د خسارې د ترلاسه کولو په

تمه دي، لا يې هم پوره اندازه نه ده ترلاسه کړې، يا په خپلو غوښتنوکې بريالي نه وو. يوه قرباني راپور ورکړ چې هغه به د بېړو ورکړې اړتيا ولري تر څو د افغانستان د حکومت سره د خسارې لپاره غوښتنه وکړي.

د قربانيانو لخوا څخه چې کومې دوه مهمې اړتياوې، کومې چې د دوي لپاره خوارا مهمې دي په ګوته شوې، هغه د خسارو مالي ورکړه او د دغه ډول پېښو د بيا پېښيدو څخه مخنيوی دی. يو سړی، چې ورور يې د افغانستان په لويديځ کې د ملي اردو په هوايي بريدکې ټپي شوی، وويل:

**"کله چې دا ډول پېښې پېښيږي ... ملکي وګړي نشي کولای خپل غږ اوچت کړي. که چيرې دولت د دې پېښې مسؤل وي، حکومت بايد قربانيانو ته خساره ورکړي او قربانيانو سره مالي مرسته ورکړي، ځکه چې قربانيان ټپيان شوي او درملنې ته اړتيا لري او د دوي کورنۍ هم د هغوی د ژوند لګښتونو ته اړتيا لري."**




د افغانستان د سولې خبرې د جګړې د ښکيلو اړخونو لپاره يو فرصت چمتوکوي ترڅو هغه نه تکراري زيان او ويجاړونکی اغيزه په پام کې ونيسي چې جګړې افغانانو ته ور اړولې، او د حقيقت، عدالت او د خسارې د ورکړې په تړاو د قربانيانو حقونو ته رسيدګې وشي. ډيری قربانيانو دې ته اشاره کړې چې دوي سوله غواړي. د هيواد په لويديځ کې يوه پلار، د چا ماشوم چې د هاوان د يوې ګولۍ په پايله کې چې د هغه په کور لګيدلی ووژل شو، ويلي چې:

**"زه هيڅ نور نه غواړم. يوازې د دې ډاډ ترلاسه کول غواړم چې وضعيت ښه شي، او زما د ماشومانو په څير د بل چا ماشومان ونه وژل شي. "**

# میتودولوژي

د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپلو راپورونو د موخو لپاره، یوناما یوازې د ملکي تلفاتو مستند شوي تلفات کوم چې تایید شوي وي په خپلو راپورونوکې شاملوي. د "تایید شویو" په حیث ملکي تلفات هغه وخت ریکارډ کیږي چې بنسټ یې د یوناما لخوا د بیاکتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پراساس وي، څرګنده او داسې "روښانه او قانع"کوونکي شواهد شتون ولري چې ملکیان وژل شوي یا ټپیان شوي دي. د دې معیار د پوره کولو لپاره، یوناما لږ تر لږه درې بیلابیلو او خپلواکه سرچینو، د بیلګې په توګه قرباني، شاهد، طبي متخصص، ځایی چارواکي، د شخړې د یوې ډلې لخوا تایید، د ټولنې مشر یا نورو سرچینو ته اړتیا لري. د امکان په صورت کې، معلومات د قربانیانو او ا یا د پیښې د شاهدانو د لومړنیو ارقامو او د ساحې د حقایقو د موندلو له لارې ترلاسه کیږي. چیرې چې یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو په باوریتوب اوکره توب ډاډمنه نه اوسي، نو دا تصدیق شوي نه ګڼي. نا تایید شوي پیښې پدې راپور کې ندي شامل شوي. یوناما د دې ادعا نه کوي چې پدې راپور کې وړاندې شوي احصایې بشپړې دي او د عملیاتو په چاپیریال کې د داخلي محدودیتونو په پام کې نیولو سره د ملکي تلفاتو احتمالي کم راپور ورکول تاییدوي، په ځانګړي توګه دکوویډ–۱۹ وبا د ناروغۍ له امله د تګ راتګ د شته وروستیو ننګونو په پام کې نیولو سره رامینځته شوي.

د نورو تفصیلي معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما کلنۍ راپورونو ته مراجعه وکړئ،چې په لاندې ویب پاڼه د لاسرسي وړ ده: http://unama.unmissions.org/protection-of-civiliansreports